DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

شمارهٔ: ۲۱

3 October, 2007

اووم کال - دویمه دوره، یوویشتمه گڼه، پر له پسې گڼه ۱۰۴۵ د ۱۳۸٦ هـ ش د تلې ۱۱ ، د چهارشنبې ورځ، د ۱٤۲۸ هـ ق د رمضان المبارک ۲۱

PROPERTY OF ACKU

مونږ په هېواد کې ټولنیز عدالت او تل پاتې سوله غواړو

ملګري ملتونه:

افغانستان تر ټولو خونړی کال تیروي

بښنوا- په کابل کې د ملګرو ملتونو اداره وایي چې افغانستان د ۲۰۰۱ کال را په دې خوا چې امریکایی ځواکونو افغانستان ته راغلي دي تر ټولو خونړی کال تیروي .

واشنګټن میشتې McClathay Newspapersرسنۍ په کابل کې د ملګرو ملتونو د اداړې د امنیت د څانګې له خوا د تیار شوي راپور له مخې وایي چې سږ کال په تاوتریخوالي کې په سلو کې ۲۵ ډېروالی راغلی دی .

۴ مخ

دکونړ په ولایت کې یو امریکایي سرتېری ووژل شو

بی بی سی - په کونړ کې په دوو جلا-جلا پېښو کې وسله والو طالبانو یو امریکایي سرتېری او درې پولیس وژلي. یو پولیس نادرکه شوی او پنځه نور ټپیان دي.

د دغه ولایت د پولیسو مشر جلال جلال وایي: وسله والو طالبانو په سرکانو ولسوالۍ کې د پوله ساتونکو پولیسو پر یوې پوستې سهار وختي برید وکړ.

۴ مخ

انفجار انتحاری در موتر حامل پولیس

-سایت وخت - برای دومین بار در روزهای اخیر، یک سرویس حامل ماموران دولتی در کابل هدف حملهٔ انتحاری قرار گرفت و تلفاتی برجای گذاشت. بر اساس گزارش های رسیده از محل واقعه ، صبح دیروز، یک حمله کنندهٔ انتحاری، بمب همراه خود را در یک موتر سرویس حامل افراد پولیس منفجر کرد.

ص ۴

برتانیه له عراق څخه (۱۰۰۰) پوځیان و باسي

غورځنګ - د برتانیې لومړي وزیر(ګوردن برون) نن اعلام وکړ چې د روان میلادي کال ترپایه پورې به دعراق د بصرې له سیمې څخه ددغه هیواد (۱۰۰۰) پوځیان وباسي.

عراق امنیتي ځواکونه د بصرې دامنیت دساتنې چارې په غاړه واخلي .

امریکایي چارواکو ددغې پریکړې په اړه اندیښنه څرګنده کړې او ویلي بې عراقي چارواکو ویلي دي چې تر راتلونکو دوو میاشتو پورې به د دي چې دغه کار به په بصره کې د نفتو زیرمې له خطر سره مخامخ کړي .

بی‌نظیر بوتو صدراعظم سابق پاکستان :

اجازهٔ حمله علیه بن‌لادن را در پاکستان می‌دهم

رویتر- بی‌نظیر بوتو اعلان کرد، در صورتی که وی رهبری این کشور را برعهده بگیرد به امریکا اجازه می‌دهد تا برای از بین بردن اسامه بن لادن در داخل پاکستان حملاتی را براه اندازد . به نقل از خبرگزاری رویتر، بی‌نظیر بوتو، نخست وزیر سابق و در تبعید پاکستان در گفتگو با شبکهٔ خبری بی.بی.سی اظهار داشت: من امیدوارم بتوانم اسامه بن لادن، رهبر شبکهٔ القاعده را بدون تکیه بر امریکایی‌ها دستگیر کنم اما اگر نتوانستم، ما در جنگی مشترک شرکت می کنیم. من بخاطر از بین بردن بن‌لادن همکاری آنها را خواهانم.

ص ۴

درآخرین زدو خوردها در عراق دو عسکر امریکایی کشته و ۱۱ تن دیگر زخمی گردیدند

اردوی امریکا در عراق روز سه‌شنبه از کشته شدن دو تن و زخمی شدن ۱۱نفر از سربازانش در بغداد و دیوانیه خبر داد .

اردوی امریکا در دو بیانیهٔ جداگانه اعلان کرد که در جریان یک عملیات جنگی در روز یکشنبه در بغداد یک سرباز امریکایی کشته و ۱۰تن زخمی شدند .

ص۴

وزیر خارجهٔ فرانسه برنار کوشنر:

تحریم غرب علیه ایران باید ادامه یابد

بی بی سی - وزیر خارجهٔ فرانسه خواستار ادامهٔ اقدامات غرب برای تشدید تحریم علیه ایران شده اما وزیر خارجهٔ ایران تحریم خارجی را بر تصمیم های دولت این کشور بی تاثیر خوانده است.روز سه شنبه، ۲اکتوبر، برنار کوشنر، وزیر خارجهٔ فرانسه، گفت که حتا در طول مذاکرات برای حل بحران هستوی ایران، کشورهای غربی باید.

ص۴

د پاکستان د پارلمان (۸۶) غړو استعفا وکړه

غورځنګ - تاکل شوی چې د شنبې په ورځ د اکتوبر په (۲) نیټه په پاکستان کې د ولسمشرۍ تاکنې وشي، د دغه هیواد دپارلمان (۸۶) غړو په دغو تاکنو کې د نه ګډون په موخه له خپلو دندو څخه استعفا ورکړې. دوی ټینګار کوي چې د ولسمشرۍ څوکۍ ته د جنرال پرویز مشرف کاندیدل غیرقانوني دي. په عین حال کې د مشرف دوو سیالو کاندیدانو سترې محکمې ته د نومورې دکاندیدۍ پرضد خپل اعتراض لیکونه وړاندې کړي دي .تیره جمعه دپاکستان سترې محکمې دجنرال مشرف په ګټه څو اعتراض لیکونو رد کړل چې دغه کار دنومورې له پاره ستره بریا وګڼل شوه. په پاکستان کې ولسمشر د پارلمان او ددغه هیواد دځلورو ایالتي اسامبو غړو له خوا تاکل کیږي. داسې ښکاري چې جنرال مشرف به په دغو تاکنو کې بریالی شي .

په شرطونو سره د سولې راتګ ستونزمن کاردی

احمد شاه زغم

د کابل پوهنتون استاد احمد شاه زغم

د ملګرو ملتونو استازي په افغانستان کې ویلي دي چې مونږ تیار یو د طالبانو او دولت ترمنځ په خبرو اترو کې منځګړیتوب وکړو. په دې اړه مو د ادبیاتو د پوهنځي استاد او د پښتو ټانګې مشر ښاغلي احمد شاه زغم سره مرکه کړې ده چې ستاسې خدمت ته یې وړاندې کوو .

پ:- استاده! لکه څنګه چې په دې وروستیو کې ملګرو ملتونو اعلان وکړی چې دوی غواړي د دولت او طالبانو ترمنځ خبرو اترو کې منځګړیتوب وکړي، په دې هکله ستاسو نظر څه دی؟

څ:- زما په نظر خو دا ډیره ښه خبره ده چې ملګري ملتونه د دواړولوریو ترمنځ منځګړیتوب وکړي او د افغانستان دې روانو ستونزو ته د پای ټکی کیږدي ځکه چې په افغانستان کې ډیره موده و شوه چې جنګونه، جګړې او وژنې روانې دي دا چې اوس افغانان هم له دې بې امنیو اوګډوډیو څخه زیات په تنګ شویدي او تل په دې سوچ کې دي چې څه وخت به مو هیواد جوړپږي او یوه با امنه فضا به په کې راځي تر څو زمونږ دا ستړي زړونه په کې کرار شي او په یوه ارامه فضا کې ژوند و کړو خو که له یوې خوا زه دې خبرې ته خوشبینه یم له بلې خوا دا هم ویلی شم چې مخکې له دې هم کله چې په افغانستان کې د روسانو له وتلو نه وروسته خپل منځي جګړې پیل شوې نو څو ځله ملګرو ملتونو د دوی په منځ کې منځګړیتوب وکړ، خو کومه نتیجه یې ورنه کړه او ویې نه شوی کولی چې په افغانستان کې سوله راولي. خو خدای ج د وکړي چې دا ځل یې منځګړیتوب نښه پایله ولري او د پخوا په څېر له کومې پایلې پرته سر ته و نه رسېږي او دا منځګړیتوب د افغانانو له پاره یوه ارامه فضا رامنځ ته کړي.

۳ مخ

سرمقاله

تخطی آشکار ناتو و نیروهای ایتلاف از قوانین دولت و معیار های بین المللی

از موجودیت بحران ناامنی و جنگ در افغانستان سی سال می گذرد هیچ افغانی را سراغ نداریم که متاثر از گزند آن نباشد. همه به این باور اند که عامل اساسی بحران ها در کشور تجاوز وحشیانهٔ روس ها بوده که با نادیده گرفتن قوانین و فرهنگ افغان ها خواستندبا توسل به پول و کلاشینکوف ارادهٔ خود را بالای مردم ما تحمیل نماید و هم چنان نظام های دست نشانده شوروی نیز تلاش نمودند که با دست کم گرفتن فرهنگ افغانی، فرهنگ باداران خود را در کشور، تطبیق نمایند؛ مگر نابود و سیه روی تاریخ شدند.

به دنبال آن کشورهای همسایه تلاش های مکرر به خرچ دادند تا به وسیلهٔ غلامان خویش فرهنگ مردم ما را مطیع خود سازندکه آرزوهایشان نقش بر آب گردید، با آمدن قوت های نظامی امریکا و ناتو فکر آن می رفت که اینها با استفاده از تجارب تلخ شوروی ها شاید قوانین و فرهنگ جامعهٔ افغانی را محترم شمارند و معیار عمل خود قرار دهند مگر در عمل ناتو و نیروهای امریکا قوانین و فرهنگ کشور ما را نادیده گرفته و حتا در برخی موارد آنرا لگدمال نمودند که این عمل آنها یکی از علت‌های اساسی بحران کنونی در افغانستان محسوب می گردد. امریکایی ها برای نخستین بار در سال ۲۰۰۱ بخاطر کشتن و یا دستگیر نمودن یکعده افراد طالبان و القاعده پول گزافی را به عنوان جایزه اعلان نمودند که بادرنظرداشت شرایط افغانستان این اشتباه امریکایی ها پنداشته می شد و به دنبال آن هزاران انسان ملکی و بی گناه جان های شیرین خود را در عملیات ناتو و امریکا از دست داده و هستی مادی و معنوی شان معدوم گردید، ناتو و امریکا بعد از هر اشتباه شان که منجر به کشتن مردم بی گناه شده و می شود، تنها معذرت خواسته و دولت در زمینه محض به ایجاد و تشکیل کمیسیون ها اکتفا کرده وبس ، رییس جمهور محترم باید بداند که وظیفهٔ شان در تشکیل و توظیف کمیسیونهای پوشالی و بی نتیجه خلاصه نمی شود و مردم ما نیز به این بازیهای تبلیغاتی میان تهی آشنایی کامل دارند. جنگ ویرانگری که در ضدیت کامل و آشکار با منافع ملی کشور قرار دارد و بیشترین قربانیان آن مردم غیرنظامی است در کشور بطور خشن آن تسلط دارد. بارهاست که مردم بی گناه ملکی، قربانی به اصطلاح (اشتباهات و خطاهای) قوای مسلح خارجی در افغانستان گردیده و همه هستی و دارایی شان نابود می گردد.نیروهای نظامی ایتلاف تحت امر امریکا دیروز ثانیاً اشتباه قبلی خویش را تکرار کرد. این نیروها برای باز داشت و کشتن دوازده تن از قوماندانان طالب و القاعده در افغانستان از بیست هزار تا دوصد هزار دالر جایزه را تعیین و اعلان نمود. این به نوبهٔ خود بزرگترین اشتباه آنان محسوب می گردد؛ زیرا پول و تفنگ در تمام موارد وسیله حل مشکلات نیست بلکه بر عکس تلفات مادی و معنوی مردم را بیشتر می سازد و خسارات جبران ناپذیری را بر نیروهای خارجی تحمیل می کند.

قوت های ایتلاف بدین عمل خود مشروعیت دولت افغانستان را تحت سوال قرارداده است.

ناتو و نیروهای ایتلاف در افغانستان بدون حکم آشکار محکمهٔ دولت وبدون حمایت رییس جمهور و پارلمان افغانستان؛ صلاحیت صدور حکم کشتن افغانها را و لو که مجرم هم باشد ندارد و آنهم توسط پول.

این عمل ناتو و نیروهای ایتلاف تخطی آشکار از تمام قوانین نافذه دولت و تخطی آشکار از معیارهای بین المللی است .

ناتو زمانی می تواند در افغانستان پیروز مندانه وظایف خود را انجام دهد که فرهنگ و قوانین کشور ما را عملاً در نظر گیرد.

محترم کرزی ! مردم از شما صلح واقعی ، ثبات پایدار، عدالت واقعی و مصوونیت خود، فرهنگ و قوانین خود را می خواهد.

محترم کرزی ! مردم از شما صلح واقعی مستدام، ثبات پایدار، عدالت واقعی و مصوونیت خود، فرهنگ و قوانین خود را می خواهد.

نظری به قانون اساسی

قسمت اول

نویسنده: پوهندوی داکتر فاروق بشر

موضوع سلب اعتماد دو وزیر و معرفی عوض آنها ورییس د افغانستان بانک و یک عضو ستره محکمه، در ولسی جرگه (مجلس نمایندگان) مطرح ومورد بحث است. نماینده گان محترم ولسی جرگه در این روز ها به قوهٔ اجراییه پیشنهاد کرده بودند تا عوض دو وزیری که از طرف آن جرگه سلب اعتماد شده اند و همچنان بجای رییس د افغانستان بانک وعضو ستره محکمه که نتوانسته بودند رای اعتماد را از ولسی جرگه حاصل کنند، اشخاص مورد نظر را غرض تایید یا رد تقرر شان مطابق حکم جزء(۳) مادهٔ نود ویکم قانون اساسی به شوری معرفی کند. رییس جمهورافغانستان به فیصلهٔ ولسی جرگه در مورد سلب اعتماد وزیر مهاجران و اخذ رای عدم اعتماد رییس د افغانستان بانک وعضو ستره محکمه موافقه کرده بود ولی بنابردلایل مشخصی که از طرف ستره محکمه در مورد رای عدم اعتماد وزیر خارجه ابراز شده، سلب اعتماد او را نه پذیرفته است. ممکن بدیل رییس د افغانستان بانک و یک عضو ستره محکمه و وزیرمهاجران را رییس جمهور به ولسی جرگه معرفی کند ولی رییس جمهور به سلب اعتماد وزیر خارجه تاهنوز بنابر استدلال ستره محکمه ومشاوران حقوقی خود، موافقه ندارد.

آن عده از اشخاصی که نتوانسته اند تایید ولسی جرگه را حاصل کنند، از طرف رییس جمهور بحیث سرپرست تعیین شده اند. سوالی به فکرم می آید و آن اینکه، ایا سرپرست برای چه مدت اجرای وظیفه کرده می تواند؟ ایا از نظر سیاسی شخصی که مورد تایید و لسی جرگه قرار نگیرد، لازم خواهد بود تا در آن پست بحیث سرپرست تعیین شود؟ از این قبیل سوالهای زیادی به خاطرم می آید که نمی خواهم بر جزییات آن ببپیچم ولی باید بخاطر داشت که ولسی جرگه بنابر دلایلی شخص پیشنهاد شدهٔ حکومت را برای آن پست لازم ندانسته و بنابر این اگر در آن پست شخص سلب اعتمادشده بحیث سرپرست تعیین می شود، واقعاً سوال بر انگیز است.

برای بررسی مطالب فوق بهتراست به قانون اساسی نظراندازیم ودرپرتومواد قانون اساسی ببینیم که دراین مورد قانون اساسی ما کدام مادهٔ مشخصی دارد تا مشکل را حل کند یا باید از تفسیرکارگرفته شود؟ و اگر از تفسیر کار گرفته شود، سوال بعمل می آید که کدام مرجع صلاحیت تفسیر قانون اساسی را دارد؟ قانون اساسی در مادهٔ ۱۲۱، برای ستره محکمه صلاحیت داده تامطابقت قوانین، فرامین تقنینی، معاهدات بین المللی و میثاق های بین المللی را با قانون اساسی، و تفسیر آنهارا بر اساس تقاضای حکومت ویا محاکم، مطابق به احکام قانون بعمل آورد. آیا ولسی جرگه مکلف به رعایت ازتفسیریکه از قانون اساسی توسط ستره محکمه به عمل می آید،می باشد؟ آیا ستره محکمه صلاحیت تفسیر قانون اساسی را دارد؟ و اگر دارد و یاندارد بر مبنای کدام مادهٔ قانون اساسی میباشد ، پس کدام مقام این صلاحیت را خواهد داشت؟ ایا ولسی جرگه مقید به نظر مشورتی ستره محکمه می باشد یا خیر؟ ایا نظریکه باین ارتباط از سوی ستره محکمه صادر می شود، مشورتی است یا اطاعت از ان الزامی؟

ادامه دارد

یو څو کرښې او جامع الکمالات

جامع الکمالات هغه څوک دي چې اصلاً په هیڅ نه پوهیږي خو ځانته حق ورکوي چې ځان په هر څه پوه وښيي جامع الکمالات هغه دي چې په هره غونډه کې تر بل هر چا ځانته جرئت ورکوي چې تر ټولو لومړی او ژر خبرې وکړي او داسې انګیري چې په دې ډول په خلکو کې شهرت پیدا کړي او نورو ته په خپل نظر داسې ښودلی شي چې په هر شي ښه او ډیر پوهیږي جامع الکمالات هغه دي چې د یو څو خبرو په زده کولو سره ځانته تر نورو ډیر حق ورکوي چې پر دولتي ارګانونو کې پر لوړو څوکیو کار کوي جامع

همدغه کسان دي چې هر چیرې د قانون او د قانون د حاکمیت خبرې کوي خو په خپله اصلاً قانون نه پیژني او ډول ډول قانون ماتونې کوي او ان چې ځانونه تر قانون پورته بولي.

الکمالات هغه دي چې تر پرون پورې یې د خلکو په سترګو کې خاورې شیندلې دي، د بې ګناه کسانو وینې یې تویې کړې، د ټوپک په زور یې ډیرې ککرۍ تر خاورو لاندې کړې دي، د خلکو په پت او عزت یې تیري کړي دي خو په ډیرې سپینې سترګې سره هڅه کوي ځانونه سپین وښیي جامع الکمالات هغه دي چې د خلکو او وطن په وړاندې یې ډول ډول خیانتونه کړي وي خو په ډیر جرئت او بیا هم په ډیرې سپینې سترګې سره ځان د پرون، نن او سبا د هر څه وارث بولي او نور هم په شاټپوي چې د ده ترشا ودریږي. جامع الکمالات هغه دي چې د پولیسو په جامه او په تورو هیندارو لرونکو موټرو کې د خپلو پلویانو په وسیله د نورو پانګې لوټوي او هیڅوک هم نشي کولی چې دهغوی مخه ونیسي. جامع الکمالات هغه څوک دي چې په ډیرې زورټیا د نورو جیبونه وهي، د بیت المال هست او نیست غلا کوي، په غلاکولو نه شرمیږي خو که څوک ورته د غله په نامه ګوته ونیسي نو بیا خدای ج دده سرته خیر پیښ کړي. که رښتیا ووایو همدغه جامع الکمالات دي چې زمونږ په هیواد کې بې یوه مطلقه ګډوډي او بې نظمي راوستې ده، له یوې خوا خلکوته وایي چې بیدار اوسئ او غلو ته وایي چې غلا کوئ، همدغه کسان دي چې هر چیرې د قانون او د قانون د حاکمیت خبرې کوي خو په خپله اصلاً قانون نه پیژني او ډول ډول قانون ماتونې کوي او ان چې ځانونه تر قانون پورته بولي همدوی دي چې له دولتي نوم او نشان، څوکۍ او موټرو څخه د ځان، کورنۍ اوخپلو بچیانو د هوسایني او آرامۍ په مقصد کار اخلي، همدوی دي چې هیڅ ډول پوهه، سواداو تجربه نه لري او د کارونو د سمون په لارو چارو نه پوهیږي . هو نورو ته وخت نه لري چې په دولتي اورګانونو کې کار وکړي نور که هر څومره پوهه، تجربه او تدبیر ولري جامع الکمالات یې پرمخ دروازې تړي، ډول ډول تورونه پرې لګوي او د چارواکو له پامه او نظره یې غورځوي، دوی دا کار د دې له پاره کوی چې د پوهو، مستعدو او مجربو کسانو په منځ ته راتللو سره د دی د پرځیدو وخت را نیږدې کیږي او دوی بیانه شي کولی چې په دې ډول ډګر کې خپل آس ته متروکه ورکړي او په خپله خونبه یې هرې خوا ته وغځولي همدغه څو ګوتې په شمار جامع الکمالات دي چې اداري فساد ته لمن وهي، قومي،ژبني، سمتي، ګروپي تضادونه راپاروي که په تورو عینکو نه بلکې په رنو سترګو وګورو نو ویلی شو چې زمونږ په هیواد کې روانې ستونزې او نا خوالې د

همدغو جامع الکمالاتو د ځان غوښتنو او په ځان مینو د ورځنیو هڅو او هاندونو کارنامې دي دوی داسې انګیرې چې ګواکې دوی دومره مهارت لري چې خپلې کارنامې تر هر چا پټې ساتلی شي، په هر رژیم او هر نظام کې د لومړیتوبونو حق لرلی شي. نه دا ده چې د ډیرو بې شمیره ستونزو په پام کې نیولو سره دغه ډول چالاک ، غوړه مال او خپل چارې کسان وپیژندل شي له ادارو او خدمتګارو

که په تورو عینکو نه بلکې په رنو سترګو وګورو نو ویلی شو چې زمونږ په هیواد کې روانې ستونزې او نا خوالې د همدغو جامع الکمالاتو د ځان غوښتنو او په ځان مینو د ورځنیو هڅو او هاندونو کارنامې دي.

ارګانونو څخه وشړل شي. زړه سواند، ماهر، په هیواد مین، وطندوست، صادق او خدمتګار کسان چې نن یا په کورونو کې ناست دي اویا په واټونو کې لاس ګاډې چلوي راوستل شي او په هیواد کې روانې ستونزې ورو ، ورو کمې شي.

متین خوږیانی

رمضان ماه خیر و برکت

د روژې ښیګنې او مکلفیتونه

د روژې میاشت چې په هر کال کې یو ځل راځي او ټول پرشرایطو برابر مسلمانان له شرعي عذر پرته د هغې په نیولو باندې مکلف شوي دي، ډیر زیات فضیلتونه، ثوابونه او مکلفیتونه لري. یو فضیلت یې دا دی چې په دې میاشت کې د دوزخ دروازې تړل کیږي او د جنت دروازې خلاصیږي. که چیرې څوک په دې میاشت کې له اصولو او مقرراتو سره سمه روژه ونیسي او د وجود ټول حواس ورسره سم روژه کړي، څرګنده ده چې خداج له خپلې ژمنې سره سم د هغه ګناهونه ببنې

خو یوازې دانه چې په روژه کې وچ په وچه ګناهونه ببنل کیږي او انسان پرې داډه شي چې څه شی و نه خوړل شي او نور هرې ګناه ته لاس واچوي نو هغه ته به د جنت دروازې خلاصې وي او ګناه به یې په بشپړه توګه ببنل کیږي. مونږ مسمانانو ته که چیرې د روژې فضیلتونه بیانیږي ورسره سم باید مکلفیتونو ته هم فکر وکړو اوپه لومړي ګام کې سم او رینبتیني مسلمانان شو. ډیر کسان شته چې د روژې په همدغه میاشت کې روژه په خوله دروغ وایي، روژه په خوله لمونځونه ترې قضا کیږي، روژه په خوله اختلاس کوي، رشوت اخلي، غلا کوي، دروغ وایي، یو مسلمان وروڑته کندې کني، مسلمان ورور وژني هغه حلالوي، د خلکو او وطن په وړاندې تخریب کوي، بمونه ږدي ، د روژې په پاکه میاشت کې خپل مسلمانان روژه په خوله وروڼه په سرو وینو کې ککړ وي او شهیدان کوي یې او داسې نورې ګناوې ور ته هیڅ ښکاري. پوښتنه دا ده چې ایا د داسې کسانو روژه چې ځانته مسلمان وایي د خدای له پاره کړې دي، په رشوت کې مو اخیستې دی، اختلاس مو کړی دی او بیا په هغو باندې بیت الله شریف ته ځو، په هغه پاک ځای کې لوی ځښتن ته لاسونه په نامه ایږدو، پوښتنه دا ده چې په شرعي لحاظ د داسې فرضیت د اداء کولو فتوا څه ده؟

داسې خلک شته چې په حرامو پیسو څو پوړیزه ودانۍ جوړوي او داسې ودانۍ چې ځښتن یې پخوا دوو روپیو ته حیران و او د خپل ولس خلکو ته معلوم و چې د پولې پرې ته ناست و خو اوس د بې شمیره ، ودانیو اوکورونو څښتن شوی دی دا دومره شتمنی یې له کومه کړه ؟ د پلازې او کور په سر یې لیکلی وي چې ماشاالله، زما دا خبره هغه چا ته متوجې ده چې په حرامو او چور چپاول یې ګټلي وې ایا دداسې خلکو وجدان مني چې لګول شوې پیسې یې حلالې دي یا د دوی روژه به په دې حرامو پیسو د خدای ج له پاره په بشپړه توګه د منلو وړ وي؟

که چیرې مونږ له ځان سره فکر وکړو څو کسه که په دې ټولنه کې پیدا شي چې د روژې په مبارکه میاشت کې په حلال خوراک روژه ونیسي او په حلال لباس کې عبادت وکړي. د پاتې زیاتو کسانو خوراک او لباس کې حتماً حرامې پیسې، د اختلاس پیسې، د نورو له حق ځنې د خوړلو پیسې، د نورو په حق کې د استثمار له لارې د لاسته راوړلو پیسې او یا په صداقت سره د کار د نه کولو لارې پیسې شامل دي نو خو دا ده چې د خدای ج فرضیت په سمه او هغه طریقه چې خدای ج راته امر کړی دی، سرته ورسوو ، په حلال لباس کې د خدای ج عبادت وکړو ، په حلال رزق روژه ماته کړو ، په حلال رزق روژه ونیسو او په روژه کې د وجود ټول حواس روژه او د اسلام له اصولو سره سم ځان عیار کړو. له دې پرته باور دی چې الله ج به مونږ ته د روژې بشپړ ثواب را نه کړي. که چیرې مونږ نبه مسلمانان شو او د الله ج په لاره برابر شو دا واقعیت دی چې په ټولنه کې به ډیرې ناخوالې له منځه لاړې شي ، بدبینی به پای ته ورسیږي او د جګړو ډیرې خلا وي به راکمې شي. په خپله به په هیواد کې د ارامې او یوالي زمینه برابره شي ، د مسمانانو له حالې به خبر شو ، له یو بل څخه به په ناروا وو د پیسو شکول پای ته ورسیږي ، غله او چور به کم شي او د انسانانو له وژلو څخه به لاس واخلو ، که چیرې ناروا وې وي لکه اوس یې چې په ټولنه کې ګورو لامل یې دا دی چې لا تر اوسه د اسلام په لاره سم روان نه یو ، خو یوازې د ځان په ګټه کارکولای شو ، د اسلام له نوم څخه نبه استفاده کولای شو او ځان خپل هدف ته رسولای شو چې داسې حرکت د خدای ج په وړاندې نادرست او د منلو وړ نه دی



غوره اود قبلولو وړ ده؟

روژه خو ځانته خپل اصول لري او د اوصولو له مخې باید روژه ونیسو چې غیر مسلمان خلك و پوهیږي چې مسلمانان واقعاً د اسلام د سپیڅلي دین له مخې روان دی او زمونږ ټول حرکتونه د نورو له پاره لوست شي او داسې کسان هم د اسلام مبارك دین ته راشي او پاکه کلمه ووایي. مونږ څنګه مسلمانان یو چې په حرامو پیسو ، داختلاس په پیسو ، د غلا په پیسو ، د چور او چپاول په پیسو ځانته لباس اخلو او هغه اغوندو او په همدې نا حلال لباس خدای ج ته ودریږو ، لمونځ کوو او خدای ج روژه نیسو. په حرامو پیسو شیان اخلو او مانبام د حرامو پیسو په واسطه په پیرودل شوو خوراکي شیانو روژه ماته وو او پیش نمی کوو ، په حرامو پیسو جای نماز اخلو او بیا هغه باندې ودریږو او خدای ج ته ودریږو لمونځ کوو ، په حرامو پیسو چې نبه پوهیږو چې دا پیسې د غلا او چور په واسطه تر لاسه شوي دي، د اداري فساد په بیلا بیلو ډولونو مو تر لاسه

سهراب دیدار

توصیه های تغذیه ای در ماه مبارک رمضان

روزه از نظر طب قدیم و جدید باعث درمان بیماری ها سم زدایی بدن و استراحت دادن به دستگاه هاضمه می شود و برای کاهش وزن کاهش چربی و مبارزه با افزایش قند خون به افراد جامعه توصیه می شود.یکتن ازمتخصصان در مورد تغذیه در ماه مبارک رمضان میگوید: وعده های غذایی در ماه رمضان به سه وعده افطاری، شام و سحری تقسیم می شوند و افرادی که در ماه رمضان روزه می گیرند باید به این نکته توجه داشته باشند که خوردن افطاری و سحری با رعایت اعتدال ضروری است.وی گفت :افراد باید افطار خود را با یک یا چند عدد خرما، چای کمرنگ یا شیر گرم به همراه مقداری نان و سبزی و پنیر آغاز کنند مصرف بیش از حد مواد غذایی شیرین و پرچرب هنگام افطار منجر به تشنگی می شود و مصرف نوشیدنی های زیاد به خصوص مایعات خنک با رقیق کردن اسید و آنزیمهای دستگاه هاضمه باعث اختلال در هضم و جذب مواد غذایی می گردد.وی ادامه داد: استفاده از مایعات و میوه ها در زمان افطار و در فاصله زمانی بین افطار تا سحر به دلیل اینکه منبع خوبی از فیبر هستند برای دستگاه هاضمه مفید است و مانع بروز قبضیت می شود.

وی گفت: شام خود را با غذاهای سبک کم قند مثل سوپ وسبزیها یا سالاد که فشار چندانی به معده وارد نمی کند شروع کرده و سپس سراغ شام اصلی بروید در مورد وعده سحری بیشتر انرژی بدن باید با خوردن این وعده تامین شود بهترین غذاها برای استفاده مواد غذایی حاوی غلات به همراه سبزیها است بسیاری از افراد معتقدند هنگام سحری باید از مواد غذایی که انرژی بالایی دارند استفاده کنند تا در طول روز احساس گرسنگی نکند به همین خاطر مسأله خوردن غذاهای چرب را ترجیح می دهند که باید توجه کرد به دنبال مصرف مواد غذایی پرچرب تشنگی شدیدی عارض شده که باعث ایجاد مشکلات عدیده یی در افراد می گردد همچنین مصرف بیش از حد گوشت، مواد غذایی شیرین و شور مصرف دواها و مصرف غذاهایی مثل کله پاچه در سحری توصیه نمی شود.این متخصص تغذیه یادآور شد: افرادی که دچار بیماری های مختلفی هستند باید برای گرفتن روزه با داکتر خود مشوره کنند و در غیر این صورت به جای آنکه روزه باعث سلامتی آنها شود دچار عود بیماریشان و بروز بیماریهای دیگر می شوند.

په شرطونو سره د سولې ....

پ- که چیرې طالبان د ملګرو ملتو منځګړیتوب رد کړي نو پایله به یې څه وي؟

ځ- زه خو دا درته ویلی شم چې اول خو دې طالبان او دولت په خپله کوشش وکړي چې له یو بل سره خبرو ته کښیني او په افغانستان کې جنګونه ختم شي. که نه، نو بیا دې د ملګرو ملتونو منځګړیتوب ومني. که یې و نه مني نو په افغانستان کې به همداسې لکه څنګه چې یې اوس په خپلو سترګو وینو جنګ او جګړې به روانې وي او د خلکو وینې به بهیږي. همداسې به زمونږ هیواد وروسته پاتې وي او هیڅکله به امنیت رانه شي. ځکه هیڅکله نه ده پښنه شوې چې په یوه هیواد کې د جنګ له لارې یوه داسې با امنه فضا منځ ته راغلي وي چې د خلکو له پاره ګټوره تمامه شوې وي نودا به نبنه خبره وي چې د خبرو اترو له لارې د دې بې امنیو له منځه وړلو له پاره لاره هواره شي او سوله منځ ته راشي.

پ- نړیواله ټولنه دې ته حاضره شوه چې د دولت او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو منځګړیتوب وکړي ایا یو لامل به یې دا نه وي چې ګواکې طالبان په هیواد کې د یو قدرت په توګه پیژندل شوي دي؟

ځ- دا خو له شکه وتلې خبره ده چې طالبان دې قدرت نه وي بلکې اوس طالبان په افغانستان کې یو قدرت دی ځکه چې مونږ وینو چې په ټول افغانستان کې جنګونه روان دي او همدا طالبان دي چې له دولت سره جنګ کوي او په دې دومره وخت کې هغوی له منځه تللي نه دي له دې څخه څرګندیږي چې طالبان اوس په افغانستان کې یو قدرت دی او په افغانستان کې یې پې امني رامنځته کړیده. له دوی سره دا نبه خبره ده چې دخبرو اترو له لارې سوله وشي او نور په افغانستان کې جنګونه ختم شي.

پ- که چیرې طالبان د ملګرو ملتونو منځګړیتوب و منې خو سره له دې دوی یو شمیر شرطونه وړاندې کړي، ستاسو په نظر به نړیواله ټولنه د دې له پاره چې په هیواد کې صلح راشي د هغوی شرطونه قبول کړي؟

ځ- زما په نظر خو که خبره د شرطو شي او دواړه خواوې یو پر بل باندې داسې شرطونه کیږدي چې هغه هیڅ امکان و نه لري چې عملي شي لکه څنګه چې طالبان وایي چې بهرني قوتونه دې له ټول افغانستان څخه ووزي که څه هم د دې خبرې مخالفت نه کوو بلکې مونږ هم دا وا یو چې بهرنی قوا وې دې ووزي خو په داسې یوه وخت کې چې په افغانستان کې سوله ټینګه شي یعني دولت او یا طالبان دا ذمه واري په غاړه واخلي چې په هیواد کې به امن راولي او داسې نه چې که چیرې دا نړیوال ځواکونه ووزي او په افغانستان کې حالت بیا خراب شي. په لنډه توګه باید ووایم چې شرطونه که منځ ته راشي نو سوله به یو څه مشکله وي.

پ- که چیرې شرطونه په منځ کې موجود نه وي نو دا جنګونه بیا د څه له پاره دي؟

ځ- دا سمه خبره ده چې د دوو ډلو ترمنځ به شخړه حتماً یو لامل لري اویا به د دوی ترمنځ شرطونه موجود وي خو شرطونه هم باید داسې نه وي چې د ولس ملا پرې ماته شي. ځینې شرطونه شته چې یوه او بله خوا یې باید و مني ځکه له شرطونو پرته ممکن نه ده چې د دوو ډلو ترمنځ د اختلاف راشي. مثلاً که طالبان دا ووایي چې مونږ په دې شرط خبرو ته حاضر یو چې دولت او نړیواله ټولنه زمونږ د امنیت ذمه واري وکړي نو دا ډول شرط د دوی قانوني حق دی باید ومنل شي.

علم جان پتمل

روزنامه ملی اراده
اراده در ویـــرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
اندیشه و عقاید مطـرح شده از سـوی نویسـنده گان بـه خـود شـان مربوط است

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره:(۳) افغانی
سالانه: ۱۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۶۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۲۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۲۰ دالر امریکایی

روزنامۀ ملی اراده
مرکز نشراتی افغان
موسس و صاحب امتیاز:
حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: فضل الرحمن اوریا
موبایل :0798 20 83 99
معاون: خادم احمد
موبایل: 0700 59 62 05
مهتمم : استاد پوهنیار جاویده احمدی
ادیتور پشتو: سهراب دیدار
موبایل :0700222726

خبرنگاران :
سیدالرحمن سالار – 077 440 8507
علم جان پتمل – 0799412943
کمپوز: برشکی حنیفی
دیزاین: محمدجمیل احمد
مسوول توزیع و بازار یابی : عبدالسمیع
موبایل : 0700 24 43 84
آدرس : دهمزنگ، عقب بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل ادرس : Daily.erada@yahoo.com
پست بکس : 304

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Fazal Rahman Oriya
Mobile: 0798208399
Collector: Jawida Ahmadi
Pashto Editor: Suhrab Dedar
Journalists: S.salar & Alam Jan patmal
Mobile: 077 44 08 507
Composer: Breshkay Hanifi
Designer: M.Jamil Ahmad
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: Daily.erada@yahoo.com
Post box: 304

د غزني د پوليسو پر مشربريد

د کابل - کندهار پر لويې لارې د غزني د پوليسو پر مشر عليشاه احمدزي باندې بريد شوی، خو دی خپله ژوندی وتلی او څلور ساتونکي يې تپيان شوي دي. ښاغلي احمدزي بي بي سي ته وويل په سيد اباد ولسوالي کې د سړک له غاړې پر يوه باسکل باندې اېښودل شوی بم پرې وچاود، خو دی بچ شو. ورپسې سړک ته نژدې وسله والو پرې د سپکو وسلو ډزې هم کړې دي چې ګاډی يې لګېدلی او بيا هم خپله ده ته زيان نه دی رسېدلی. په چاودنه او ورپسې ډزو کې څلور پوليس تپيان شوي، چې دوه يې د ښاغلي احمدزي په وينا په ترينګلي حالت کې دي.

د کابل -کندهار سړک د وردګو په سيمه کې په وروستيو کې د پرلپسې بريدونو شاهد پاتې شوی. دوه ورځې مخکې همدلته له سيد اباد ولسوالي څخه درې تېلرې چې بهرنيو پوځيانو ته يې توکي وړل وسوځول شول او دري نور د طالبانو لخوا يووړل شول. پر پوليسو هم په ورته مهال برید وشو.

تېره اونۍ همدلته د سره صليب څلور کار کوونکي وتښتول شول چې دوه يې بهرنيان وو. خو څو ورځې وروسته ببرته خوشي شول.

کاناډايي سرتېرو يو سړي ووژه

په کندهار ښار کې د ناټو تر مشرۍ لاندې کاناډايي ځواکونو يو ولسي سړی وژلی او يو ماشوم يې تپي کړی دی.

عيني شاهدان وايي ناټو ځواکونو پر دوو تنو موټرسايکل سپرو هغه مهال ډزې وکړې چې د هغوی پوځي ګاډو ته ورنژدې شول. ناټو ځواکونه وايي: د دوی په وسايلو کې څه ورانی راغی چې لامله يې د دوی وسلو په خپلسړې توګه مردکي ووېشتل. دوی منلې چې يو سړی په ډزو کې وژل شوی او يو اته کلن ماشوم تپي شوی دی.

سړ کال د بهرنيو ځواکونو په عملياتو کې د ولسي خلکو پرله پسې وژنې حکومت او نړيوالې ټولنې ته هغه مهال پرسر خورې واوښتې چې قهرشوو لاريون کوونکو د هېواد په بېلابېلو برخو کې په مظاهرو لاس پورې کړ. سړ کال تر بل هر وخت د بهرنيو ځواکونو په علمياتو او جګړو کې زيات ملکي خلک وژل شوي.

قوماندان عمومی اردوی پاکستان تعیین شد

جنرال "اشفاق پرويز کيانی" به عنوان فرماندۀ کل اردوی اين کشور تعيين شده است .به گزارش شبکۀ تلويزيونی جيو، جنرال اشفاق پرويز کيانی از روز شانزد هم ماه ميزان به بعد يعنی دو روز پس از انتخابات رياست جمهوری پاکستان، فعاليت در سمت جديد خود را آغاز می‌کند. اين شبکۀ تلويزيونی تصريح کرد: تغييرات در منصب های بلند پايۀ اردوی پاکستان ، مردم را به باور خروج جنرال مشرف از لباس نظامی می‌رساند.

جنرال اشفاق پرويز کيانی پيش از اين به مدت سه سال رياست سازمان اطلاعات پاکستان (آی.اس.آی) را برعهده داشته است. وی همچنين رييس عمليات نظامی پاکستان، فرماندۀ منطقۀ نظامی راولپندی که شامل مناطق شمالی و کشمير می‌شود را نيز عهده‌دار بوده است.

اشفاق پرويز کيانی رييس کميتۀ تحقيق و بررسی در ارتباط به دو سوءقصد نافرجام نسبت به جان جنرال پرويز مشرف نيز بوده و در هدايت عمليات عليه تندروی و فعاليت‌های تروريستی در مناطق قبايلی نقش موثری داشته است .

دکونړ په ولايت کې يو ....

د کونړ په يوه بله ولسوالۍ کورينګل کې بيا امريکايي پوځ وايي يو سرتېری يې نن له طالبانو سره په جګړه کې وژل شوی او دری نور تپيان شوي دي.

د طالبانو ويانډ ذبيح الله مجاهد وايي پنځه امريکايي سرتېري يې په جګړه کې وژلي. په اسد اباد کې د بي بي سي خبريال دخبر له مخې نن سهار له جګړې وروسته څلور چورلکې سيمې ته ولاړې او ببرته ژر راوګرځېدې، چې ظاهرا يې د جګړې له ډګره مرګ ژوبله راټولوله.

درآخرين زدو خوردها در عراق ....

اين بيانيه بدون ارايه جزييات بيشتر در خصوص اين عمليات جنگی افزود: در اين عمليات دو سرباز عراقی و يک مترجم و يک شهروند عراقی نيز زخمی شدند .بر اساس بيانيه های منتشره امريکا،اين اولين قربانيان نظامی اردوی امريکا در ماه اکتو برسال روان به شمار می‌رود. اردوی امريکا ماه سپتمبر گذشته ۶۴سرباز خود را، در اثر حملات گروه‌های مسلح ضد اشغال عراق از دست داد .از آغاز جنگ عراق در مارچ ۲۰۰۳ تاکنون، اردوی امريکا سه هزار و ۸۰۶سرباز خود را در اين کشور از دست داده است .

افغانستان تر ټولو ....

د رپوټ له مخې د سړ کال په لومړۍ نېمايي کې هر ه مياشت د تاوتريخوالي ۵۲۵ پېښې شوي دي، په داسې حال کې چې دا شميره په ۲۰۰۶ کال په منځنی توګه ۴۲۵ وه. په دې پېښو کې د طالبانو او نورو مخالفو وسله والو ډلو له خوا بريدونه، بمي چاودنې، برمته نيونې او په همدې ډول د تاوتريخوالي يو شمير نوري بيلابيلې پېښې راځي.

د رپوټ له مخې طالبانو او د دولت نورو مخالفو ډلو سړ کال خپل جنګي تکتيک بدل کړی دی، هغه داسې چې پر امريکايانو، سوله ساتو ځواکونو او افغان ځواکونو د غلچکي بريدونو په پر تله يې خنمرګي بريدونه، برمته نيونې او بمي چاودنې زياتې کړي دي.

بی‌نظير بوتو صدراعظم سابق....

اظهارات بوتو يک هفته پيش از انتخابات رياست جمهوری پاکستان بيان شد که قرار است در ۶ اکتوبر برگزار شود .

بوتو ۱۸ اکتوبر پس از هشت سال تبعيد به کشورش بازمی‌گردد .

مقامات اطلاعاتی امريکا معتقدند، بن لادن و رهبران القاعده تحت حمايت رهبران قبيله يی در مناطق شمال غربی پاکستان و در نزديکی مرز افغانستان به سر می‌برند .

بوتو در پاسخ به اين سوال که آيا وی به امريکايی‌ها اجازۀ انجام اقداماتی عليه بن لادن را در پاکستان می‌دهد يا خير، گفت، تصميم وی به اعتبار اين مدارک بستگی دارد .

بوتو اظهار داشت: من فکر می‌کنم بايد اين اطلاعات را مشاهده کرد من به واقع می‌خواهم اين اطلاعات را ببينم اما اگر اين اطلاعاتی وجود داشت. در ابتدا خودم مبادرت به انجام اين کار می‌کنم و در صورتی که انجام آن سخت باشد، دوست دارم با امريکايی‌ها در اين خصوص همکاری کنم

انفجار انتحاری در موتر....

درحالی که يک شاهد عينی ديگرتعداد زنان شامل حادثه را دوتن ميخواند.

که در نتيجۀ آن دست کم يازده تن کشته و شماری زخمی شدند.اين حمله انتحاری که حوالی ساعت هفت وده دقيقه صبح ديروز سه شنبه ۱۰ميزان موترحامل افسران وزارت امورداخله را هدف قرارداد، جان چندين تن را گرفته ود ه ها فاميل را به گليم ماتم نشانيد .شاهدان عينی ميگويند محل حادثه ايستگاه فاميلی های چهارراهی قمبرمربوط ناحيۀ پنجم بوده و اما تعداد تلفات را متفاوت گزارش ميدهند .يک شاهد عينی حيات الله که دکان نانوايی آن درپنج – شش متری مقابل ايستگاه (محل حادثه) قراردارد . اوميگويد که موتربعدازحرکت ازايستگاه منفجرگرديد . واما تعداد کشته شدگان را ۱۵ تا ۲۰ وانمود ميکند.

اين درحالی است که خبرنگارما ازمحل حادثه گزارش داده بود که تعداد تلفات ومجروحين به ۱۵ تا ۲۰ نفر ميرسند او يک زن وسه طفل را شامل قربانيان حادثه ذکرکرده بود.

حيات الله نانوای گفت : ((تعداد بيشتر کشته شده گان وزخمی شده گان کارمندان وزارت داخله بودند.يک زن و يک طفل دربين کشته شده گان ديده شده اند.))دراين حال وزيرصحت عامه داکتر سيدمحمد امين فاطمی به ساعت ۸:۲۵ دقيقه درمحل رسيده و در حالی که اين عمل انتحاری را محکوم ميکرد گفت((تيم طب عدلی ما مصروف بررسی است .))

وزيرصحت ميگويد که اعلان رقم کشته شده گان و مجروحان تاهنوز پيش از وقت است .

گفتنی است حدود دوساعت بعد از حادثه موتری که مورد حمله قرارگرفته بود ازجانب پوليس انتقال و بعد از شست شوی محل حادثه، راه بروی مردم باز گرديد.قرار آخرين گزارشات درزمينه، مقام های امنيتی تعداد کشته شده گان حادثه را ۱۵ و تعدا مجروحان آنرا هشت تن اعلان نموده اند که ۱۲ تن از افراد پوليس در بين کشته شده گان می باشد .

وزير خارجۀ فرانسه ....

همچنان به اقدامات خود در زمينۀ وضع تحريم بين المللی عليه اين کشور جدی باشند.

آقای کوشنر افزوده است که اين بخاطری لازم است تا دولت ايران قانع شود که غرب در زمينۀ جلوگيری از فعاليت های اتومی ايران "کاملا جدی است."

وزير خارجۀ فرانسه که در يک مصاحبۀ راديويی سخن می گفت اظهار داشت که در صورت دستيابی ايران به تسليحات اتمی، وضعيت خاورميانه بيش از پيش بغرنج خواهد شد.

وی گفت که تحريم بين المللی ايران بخشی از راه حل مسألۀ هستوی اين کشور محسوب می شود و سوال کرد "آيا روزی بايد از اين هم فراتر رفت؟" اما در اين مورد توضيحی نداد.

چندی پيش آقای کوشنر از امکان جنگ عليه ايران برای جلوگيری از دستيابی اين کشور به تسليحات اتومی سخن گفت اما بعداً اظهارات خود را تعديل کرد.

روز جمعۀ هفتۀ گذشته وزيران خارجۀ کشورهای عضو گروه ۵+۱ تصميم گرفتند که طرح تحريم های سختگيرانه تری عليه ايران در شورای امنيت را حد اقل تا آخر ماه نومبر به تعويق اندازند.